مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبد الغفور لیوال
۲۰۲۰/۱۰/۱۲

# څه چې روان دي،
## تاریخ یې همداسې ثبتوي



چنگیزي لښکر، چې هرځای ورسېد، خلک یې ووژل، وحشت و جنایت یې وکړ، ښارونه یې ویجاړ کړل، هرڅه یې لوټ کړل او په تاریخ کې یې نوم له وینو او تالان سره وتړل شو. اوس یې د تاریخ په ټول متن کې یاد له وحشت و بربریت سره یوځای یادېږي.

خو پرعکس، د تیموریانو د دوهم نسل واکمن، چې هرځای ولاړل ودانې یې وکړله، هنر یې وپنځاوه، مدنیت یې خور کړ، لیکوال او شاعران یې راټول کړل، رصدخانې یې ودانې کړلې، د ریاضي، طب، نجوم، منطق او حکمت پوهنو ته یې وده ورکړه.

بخارا، سمرقند او هرات یې راپاتې نښې په زړه کې لري.
توپیر دا شو، چې د دوی دوران د ختیځ د رېنېسانس په نامه وپېژندل شو.

**هرڅوک چې هرځای نیسي،**

**څه چې کوي؟**

**تاریخ یې هماغسې ثبتوي.**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ